

نن به مونږ د یوې ماشومې نایاب د کامیابۍ قیصه لوَ لو- نایاب د صوابۍ وسېدونکې ده- د دې دوه وروڼه او یوه خورده- دا په وروڼو، خوېندو کښې د ټولو کشره ده- نایاب په ټولو ډېره ګرانه ده-



د نایاب د ټولو نه خوږه ملګرې د دې ګاونډۍ مائره ده- دوي اکثر د سکول کار او لوبې هم یو ځاے کوي- د نایاب ښي لاس پېدائشي کار نۀ کوي- خو هغې چرې هم دا خبره په زړۀ نۀ ده اخستې -



نایاب چې کله خپل ورور عبدالله په سکول کښې داخله کړه نو هغې ته ټولو استاذانو او ملګرو ډېر به مینه په خېر راغلې ووئیلو- د هغې په کلاس کښې وحید ، جهانزېب، او شهیر هم وو- هغوي په روانۍ خبرې نۀ شوې کولې- نایاب ته د دې درې واړو په شکل کښې درې نور ورونه په لاس وراغلل- نایاب به دوي سره یو ځاے سبق وئیلو او لوبې به ئې کولې-



یوه ورځ عثمان صیب ډېر په خوشحالۍ کلاس ته راغلو او هغوي ته ئي ووئیل، "بچو! اسلام اباد ته د تلو تیارے کوئ، هلته ستاسو پینځلس ورځې ټرېننګ دے- دې نه پس په کراچۍ کښې د خصوصي ماشومانو د لوبو مقابلې دي- تاسو به په کښې د برخې اخستلو د پاره ځئ"-



نایاب د ټرېننګ د پاره اسلام اباد ته لاړه-
هلته به هغې ته خپله کور نۍ او مائره ډېر
یادېدل- مائرې به هم هغې سره په فون خبرې
کولې او حوصله به ئې ورله ورکوله ، چې ښۀ
خوارې کوه- د مائرې په دې خبرو به د هغې
ډېره تسلي کېده- نایاب خپل ټرېننګ ډېر په
جوش او جذبه پوره کړو او بېرته راغله-





د ټرېننګ کولو نه څۀ موده پس هغه د منډې
په مقابلو کښې برخې اخستو د پاره کراچۍ
ته لاړه- هلته هم هغې پینځلس ورځې تېرې
کړې- او ډېر په جوش سره ئې په مقابلو
کښې برخه واخسته- هغې په درېو مقابلو
کښې وړومبے پوزیشن او درې تمغې وګټلې-
چې کلي ته واپس راغله نو ټولې کورنۍ او
استاذانو هغې ته ډېر په فخر هرکلے اووې-



په کال 2015 کښې امریکه کښې د لوبو مقابلې وټاکلې شوې- دا مقابلې به د ټولې دنیا د خصوصي ماشومانو په مینځ کښې کېدې- په دې مقابلو کښې د برخې اخستو د پاره د پاکستان له خوا د نایاب نوم وټاکلے شۀ- په دې خبره د هغې کورنۍ او استاذان ډېر خوشحاله شول-



نایاب دومره لرې تللو او په دومره غټو مقابلو
کښې برخه اخستو نه ډېره ویرېده- خو مس
عرفأنه او عثمان صېب هغه ډاډه کړه- دواړو
هغې سره ډېره خواري وکړه او د مقابلو د
پاره ئې تیاره کړه- اخر هغه ورځ راغله
چې نایاب د خپلو خپلوانو او استاذانو په
دعاګانو امریکې ته روانه شوه-




امریکي ته په رسېدو نایاب د منډې په مقابلو کښې د زړۀ د اخلاصه برخه واخسته- نایاب د مختلفو ملکونو نه ګډون کونکیو لوبغاړو سره د منډو مقابلې وکړې، چې په کښې هغه په دویم نمبر راغله نو هغې ډېره حوصله ومونده- پاتې مقابلو کښې هغه په ډېره مینه مېدان ته ورووته-



بیا هغه په اخرنۍ مقابله کښې په اول نمبر راغله- نایاب ته چې کله تمغه اچولې کېده نو د لوبو په مېدان کښې ناستو تماش ګیرو ورته ډېر په جوش سره لاسونه پړقول- د هغې په سترګو کښې د خوشحالۍ نه اوښکې راغلې- د نایاب د کامیابۍ خبر د سترګو په رپ کښې په ټول ملک کښې خور شۀ- د هغې کورنۍ او استاذان د خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائېدل-



وطن ته واپس په رارسېدو هغې ته ډېر درونډ
هرکلے ووئیلې شو- چې کلي ته راورسېده نو
د مبارکۍ د پاره ټول خلک د هغوي ځائے
ته راغلي وو- اخبار او ټي وي واله هم راغلي
وو- صحافیانو د هغې د کامیابۍ په حقله
پوښتنې وکړې- نایاب هغوي ته ووئیل چې
زما دا کامیابي زما د مور پلار د دعاګانو
او د استاذانود محنت نتیجه ده-

# بګ بکس

## د دوېم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بېن الاقوامي ترقۍ د پاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ د پاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بِګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بِګ بُک به په دوؤ هفتو کښې لوستلې شي- استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کښې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصه واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلا د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کښې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړې شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان ترې هم ګټې ترِلاسه کړي او د پښتو په لوستلو کښې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د خېبرپښتونخوا په پرائمري سکولونو کښې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کښې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کښې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه



د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

نوټ: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قیصې اوروي او په لاندینې لارښوونو دې عمل وکړي-

## وړومبۍ ورځ (خبرې اترې: پېش ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه مخکښې

د ماشومانو نه د قیصې د سرپاڼې ښودلو په وخت تپوس وکړئ،

- تاسو ته په تصویر کښې څۀ ښکاري؟
- ستاسو په خیال دا قیصې به د څۀ په حقله وي؟
- تاسو کومې کومې لوبې کوئ؟

### د لوستلو په وخت

- په 6 مخ تپوس وکړئ، تاسو چرته د خپل کور نه لرې تلې یئ؟
- تاسو ته هم د نایاب په شان خپله کورنۍ يادېږي؟
- په 7 مخ تپوس وکړئ، ستاسو په خیال نایاب به په کراچۍ کښې مقابلې وګټي؟
- په 8 مخ پوښتنه وکړئ، نایاب امریکې ته د تلو نه ولې یرېده؟

### د لوستلو نه پس

- ستاسو د قیصې په حقله څۀ خیال دے؟ ولې؟
- نایاب په کومه لوبه کښې تېزه وه؟
- د هغې باقي ملګریو کومې کومې لوبې کولې؟
- تاسو هم د نایاب په شان کامیابېدل غواړئ؟

## دویمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه مخکښې

- په سر پاڼه سرخط "شاباش نایاب بي بي" ته اشاره وکړئ او تپوس وکړئ، ستاسو ژبه کښې "شاباش" ته څۀ وایئ ؟

### د لوستلو په وخت

- په 4 مخ د "فټ بال" تصویر وښایئ او تپوس وکړئ، ستاسو ژبه کښې "فټ بال" ته څۀ وائي؟
- په 4 مخ جمله "نایاب په منډه کښې ډېره تېزه وه" ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کښې دا جمله د لوستلو ووایئ؟
- په 10 مخ جمله د تاثراتو او د لب و لهجې ښکته پورته والي سره ولولئ "امرېکې ته چې ورسېده نو نایاب په ډېر جوش او جذبه د منډې مقابلو کښې برخه واخسته"- ماشومانو ته خپله ژبه کښې دا جمله د لوستلو ووایئ-

### د لوستلو نه پس

- ماشومانو سره د لاسونو په پړقولو هجې/ارکان بیل بیل ولولئ- لکه: کامیابۍ، پېدائشي، ګاونډ، شوقیان، ټرېننګ، مقابلې، تماش ګیر، استقبال، صحافیان

## درېمه ورځ (د ټکیو پنګه: محاورې او اصطلاحات)

### د لوستلو په وخت

- په 2 مخ جمله "خو هغې چرې هم دا خبره په زړۀ نه وه اخستې" مطلب "هغه په دې کمزورۍ خفه نۀ وه" استعمال کړئ او یو مثال ورکړئ لکه: -" هغې په مقابله کښې په اول نمبر نۀ راتلل چرې هم په زړۀ نۀ وو اخستې " اوس ماشومانو ته ووایئ چې "په زړۀ نۀ اخستل"جملې جوړې کړي-
- په 11 مخ جمله "د نایاب د کامیابۍ خبر د سترګو په رپ کښې په ټول ملک کښې خور شو" کښې "د سترګو په رپ کښې" مطلب ډېر زر خور شو- د ماشومانو د پوهې د پاره مثال ورکړئ لکه:د قائداعظم د مرګ خبر په ټول ملک کښې د سترګو په رپ کښې خور شو- اوس ماشومانو ته د جملو جوړولو ووایئ-
- په 1 مخ جمله "نایاب په ټوله کورنۍ ډېره ګرانه وه"- ماشومانو نه د دې د مطلب تپوس وکړئ یا ورته وضاحت وکړئ چې "نایاب د ټولې کورنۍ ډېره خوښه وه" اوس ماشومانو ته ووایئ چې "د سترګو تور" په جملو کښې استعمال کړئ-

## څلورمه ورځ (خبرې اترې: د ذاتي ژوند په حقله)

### د لوستلو نه مخکښې

- نایاب بي بي څوک ده او د کوم ځاے وسېدونکې ده؟
- هغه په څۀ مشهوره ده؟

### د لوستلو په وخت

- نایاب په اسلام اباد کښې په ټرېننګ کښې ولې خفه وه؟
- امریکا کښې په مقابلو کښې برخه اخستو د پاره د هغې ډاډګېرنه چا وکړه-

### د لوستلو نه پس

- کۀ نایاب د ټرېننګ مقابلو له اسلام اباد ته نۀ تله نو څۀ به کېدل؟
- ستاسو په دې قیصې کښې کومه خبره ډېره خوښه شوه-
- ستاسو چاپېرچل کښې داسې جینۍ شته چې د نایاب په شان دومره کامیابه شوې وي؟ د هغې په حقله خپلو ملګریو ته ووایئ-



This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده- دا مواد یو ایس اېډ- پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس اېډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-